بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ

د امریکا په متحده ایالتونو کې د خوګیانیو د انسجام او یووالي ټولنې غونډې راپور

- نیټه: د روان کال د جون میاشتې ۹مه
- وخت: ۹ بجې تر ۱۰ نیمو بجو پورې
- ځای: مجازي ناسته (د WhatsApp له لارې)

غونډه د قرآن عظیم‌الشان د مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه، چې روحاني فضا یې رامنځته کړه. ورپسې، ګډونوالو په ترتیب سره ځانونه معرفي کړل، چې لله الحمد هر یو یې د لوړو زده کړو څښتن وو. همدارنګه، څرګنده شوه چې ډېری ګډونوال د امریکا په فدرال، ایالتي ادارو او خصوصي سکټور کې مهم مسوولیتونه او دندې لري.

په ناسته کې پر مهمو موضوعاتو ژور بحثونه وشول، د نظرونو تبادله ترسره شوه، او په پای کې برخه وال په لاندې مواردو هوکړې ته ورسېدل:

- د تعلیم او تحصیل په برخه کې همکارۍ ته چمتووالی، د زده‌کړو فرصتونو ته اسانتیا برابرول؛
- د لایسنس او بیمې د ترلاسه کولو لپاره لازمه مرسته، معلوماتي ملاتړ او مشورې ورکول
- د روغتیایي خدماتو لپاره همکارۍ ته چمتووالی، اړینو سرچینو ته د لاسرسي تسهیل؛
- د مهاجرو د حقوقو په برخه کې عامه پوهاوی، قانوني لارښووني، او د حقونو دفاع؛
- د امریکا په بېلابېلو ایالتونو کې د خوګیاني قوم استازو لټون او د مرکزي ټولنې سره د هغوی وصل؛
- د خوګیانوالو د اړیکو لپاره د منظم جدول ترتیب، د ټولنیز انسجام پیاوړتیا؛
- د خوګیاني ټولنې د انسجام او یووالي لپاره د کړنلارې جوړول، د فعالیتونو واضح میکانیزم تدوین؛
- هره میاشت یوه غونډه تنظیمول، د راتلونکو پرمختګونو ارزونه او نوې تګلارې ټاکل؛